# دافغانستان دماین پاکۍ پروګرام

## د ۲۰۱۰ زیږدیز کال دجنوري میاشتې خبر پاڼه


## دافغانستان دماین پاکي پروګرام د ۱۳۸۹ کال لپاره دماینونو پاکولو دعملیاتو چوکاټ خپور شو

د ۱۳۸۹ لمریز کال لپاره دافغانستان دماین پاکي پروګرام دماینونو پاکولو دعملیاتو کاري چوکاټ د ۲۰۱۰ زیږدیز کال دجنوري په میاشت کې خپور شو. په نوموړي چوکاټ کې هغه پلانونه او پالیسي شتون لري چې دبشري ماین پاکۍ په برخه کې دماینونو پاکولو ټولو موسسو دتایید وړ دي.

د ۱۳۸۹ کال لپاره دافغانستان دماین پاکي پروګرام دماینونو پاکولو دعملیاتو په کاري چوکاټ (IOF)کې دماین پاکي اړوند دافغانستان ددولت ستراتیژیکې موخې، دستونځې دکچې د محتویاتو ارزونه ، هغه پرمختګونه چې تر دې مهاله شوي، دحل شونې لارې او دافغانستان دماین پاکي چارو دهمغږي مرکز لارښود چې تمویلونکو او پلې کوونکو موسسو ته یې دلومړیتوبونو دټاکلو په برخه کې چمتو کړي شتون لري .

دماینونو دخطر هغه سیمې چې مرګ ژوبله پکې رامنځ ته شوې ، هغه سیمې چې اوبو او نورو کرنیزه ځمکو ته یې لاسرسی ناشونی کړی او دماینونو دخطر هغه سیمې چې داستوګنو سیمو ته نږدې پرتې دمعیار په توګه دلومړیتوبونو دټاکلو په برخه کې په پام کې نیول شوي دي. دافغانستان دماین پاکي چارو دهمغږي مرکز په دې باور دی، کومه ستراتیژیکه کړنلاره چې دبشري لومړیتوبونو لپاره دتیرو درې ـ څلورو کلونو په اوږدوکې دافغانستان دماین پاکي پروګرام لخواه برابره شوې دماینونو دقربانیانو دکچې په ټیټولو کې یې ارزښتناکه اغیزه درلوده او دغه کړنلاره باید ادامه ومومي ترڅو په ټول هیواد کې دماینونو او نورو نا چاوده توکو خطر په ټولیز ډول له منځه لاړ شي.

که چیرې د ۱۳۸۹ کال لپاره دافغانستان دماین پاکي پروګرام دماینونو پاکولو دعملیاتو د کاري چوکاټ ټولې پروژې تمویل شي ، ۱۵۷ کیلومتر مربع په ماینونو او نورو نا چاوده توکو ککړه ځمکه به دګټې اخستنې لپاره بیرته خلکو ته وسپارل شي. دهغو پروژو سربیره چې دافغانستان دماین پاکي پروګرام پلې کوونکې موسسې به یې پیل کړي، په نوموړي کاري چوکاټ کې یو لړ نورې اړینې پروژې هم شتون لري چې دافغانستان دماین پاکي چارو دهمغږي مرکز له خوا طرح شوي دبیلګې په توګه دکابل ښار، دغزني ښار او ولایت او دهیواد دختیځو سیمو دپاکولو پروژې.



Mine Action Programme of Afghanistan

MAPA

1389 Integrated Operational Framework

1st April 2010 - 31st March 2011

Version 1: Published December 2009 by the Mine Action Coordination Centre of Afghanistan on behalf of the Mine Action Programme of Afghanistan

www.macca.org.af

دهغو غوښتنو پر بنسټ چې په نوموړي چوکاټ کې ذکر شوي، دماینونو دخطر دزدکړو او له قربانیانو سره دمرستې دپروګرامونو دپلې کولو لپاره ۲.۸ میلیونه امریکایي ډالرو ته اړتیا ده چې دورکړې ژمنه یې شوې. اوس مهال دماینونو پاکولو دعملیاتو دکاري چوکاټ (IOF) دپروژو دپلې کولو لپاره ۱۶۳ میلیونه امریکایی ډالر کم دي.

ددې لپاره چې دافغانستان دماین پاکي پروګرام دافغانستان دژمنې ( کامپکت) ټاکل شوې موخې تر لاسه کړي ، باید د ۱۳۸۹ زیږدیز کال په ترڅ ۲۹۳ کیلومتر مربع په ماینونو ککړه ځمکه پاکه کړي. نوموړی کاري چوکاټ یو لړ پروژې معرفي کوي چې له مخې یې کیدای شي ۱۵۷ کیلومتر مربع په ماینونو ککړه ځمکه پاکه شي. چې دغه کار به دپروګرام پراخیدوته اړتیا ولري. له دې کبله ښکاره خبره ده چې دې موخې ته به ونه رسیږو، پرته له دې چې له پروګرام سره دپراخیدو په برخه کې دذکر شویو مرستو سربیره لا ډیره مرسته وشي. اوس دماینونو دستونځې کچه روښانه ده، او افغانستان دماین پاکولو په برخه کې مسلکي ځواک لري چې دلازیاتو سرچینو په لاسته راوړلو سره کیدای شي دغه ځواک لا پیاوړی شي.



چمتو کوونکی : دافغانستان دماین پاکۍ چارو دهمغږي مرکز، دافغانستان دماین پاکۍ دپروګرام په استازیتوب .

## اروپايي ټولنه دافغانستان دماين پاکي پروګرام سره د ۲۱ میلونه یورو مرسته کوي

اروپايي ټولنې ژمنه کړې چې دملګرو ملتونو دماين پاکی خدمتونو له اداري سره دیوه تړون له مخې به دافغانستان دماين پاکي پروګرام سره ددوه راتلونکو کلونو په اوږدو کې د ۲۱،۷۵۰،۰۰۰ یورو مرسته وکړي.

نوموړې مالي مرسته به په ټول هیواد کې ، په ځانګړي ډول دهیواد په شمال ختیځو سیمو کې دماين پاکی ، دماینونو دخطر دزدکړو او له قربانیانو سره دمرستو یو لړ پروژې تمویل کړي. همدارنګه دغه پیسې به په ملي کچه ستراتیژیکو  موخو ته درسیدو لپاره دماين پاکي چارو دهمغږي او ددولت دوړاندیز له مخې دماینونو پاکولو دریاست او دنورو وزارتونو دظرفیتونو دودې لپاره ولګول شي.

ډاکټر محمد حیدر رضا، دافغانستان دماين پاکي چارو دهمغږي مرکز ریس وویل : " موږ داروپايي ټولنې ددغو مرستو هر کلی کوو چې دهیواد په کچه یې د ماين پاکی له پروګرام سره تر سره کړي. موږ په دې باور یو چې نوموړې مرسته به دماینونو او نورو ناچاوده توکو له اړخه دمرګ ژوبلې  دکچې په راټیټولو کې ښه اغیزه ولري او په هیواد کې به دلازیاتو پرمختګونولپاره زمینه برابره کړي. "

دهغو پروژو سربیره چې اوس مهال روانې دي، نوموړې مالي مرستې به په کابل او لوګر کې دټولنې دخلکو له خوا دماين پاکولو دوه پروژې هم تمویل کړي. په نوموړو پروژو کې له اغیزمنو ټولنو څخه دوګړو روزنه شامله ده چې دماين پاکي دبرخې د ماهرینو له خوا څارل کیږي تر څو دټولنې خلک وکړای شي خپل کلي دماینونو له شتون څخه پاک کړي. په دې معنی چې دماين پاکي پروګرام دسیمو خلکو ته دکار او اقتصادي ودې زمینه برابروي چې کیدای شي دغه کار د لانورو پرمختیاوو په برخه کې هم مرسته وکړي.

## دافغانستان دماين پاکي چارو دهمغږي مرکز او دماين پاکي ریاست د ماين پاکي لپاره دنوي تعمیر دجوړولو ډبره کیښوده



ډاکټر محمد حیدر رضا، دافغانستان دماين پاکي چارو دهمغږي مرکز ریس او ډاکټر عبدالمتین ادراک ، دپښنو پروړاندې دچمتو والې دملي اداري ریس د ۲۰۱۰ زیږدیز کال دجنوري په دیرشمه نیټه دماين پاکي لپاره دنوي تعمیر دجوړولو ډبره کیښوده.

نوموړی تعمیر دماين پاکي دریاست لپاره په درې جریبه ( ۶،۰۰۰ متر مربع) ځمکه کې دکابل ښار دپنځلسمې ناحې دقصبې په سیمه کې جوړیږي چې ځمکه یې دافغانستان ددولت له خوا ورکړ شوې وه.

## د ۲۰۱۰ زیږدیز کال دجنوري میاشتې په اوږدو کې دماين او ناچاوده توکو پیښې

| میاشت | ۱۸ کلن او له دې څخه کوچنیان | | له اتلس کلونو څخه لویان | | نامعلوم | ټول ټال |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | نرینه | ښځینه | نرینه | ښځینه | | |
| جنوری | ۲۱ | ۱ | ۱۲ | ۱ | ۰ | ۳۵ |

## په افغانستان کې دماين پاکولو موخې

**داوتاوا پریکړې :**

- تر ۲۰۱۳ زیږدیز کال پورې په بشپړه ټوګه د پرسونل ضد ماینونو پاکول.
- تر ۲۰۰۷ زیږدیز کال پورې دپرسونل ضد ماینونو دزیرمو له منځه وړل.
- افغانانو ته دماین دخطرونو په اړه دزده کړو ورکول او له ماین ځخه اغیزمنو کسانو سره مرسته .
- **دافغانستان (Compact ) ژمنې :**
- هغه سیمې چې په ماینونو اوله جګړوپاتې ناچاوده توکو ککړې دي د۲۰۱۱ کال دمارچ تر میاشتې به په سلو کې ۷۰ پاکې شي .
- دپرسونل ضد ماینونوزیرمې به د ۲۰۰۷ زیږدیز کال دمارچ تر میاشتې په بشپړه توګه له منځه ویوړل شي.

**د پرسونل ضد ماینونو دزیرمو له منځه وړل:** افغانستان داوتاوا دپریکړو دڅلورمې مادې له مخې چې د ۲۰۰۷ زیږدیز کال داکتوبر په میاشت کې به دهیواد په کچه د پرسونل ضد ماینونوټولې زیرمې له منځه وړې ترسره کړه .

## هغه کلیدي ټکي چې په افغانستان کې دماین په اړه دموخو دترلاسه کولو په برخه کې مرسته کوي .

- د شته ظرفیتونو ساتنه.
- په ټولنو کې دخلکوله خوادماین پاکولو دپروګرام پراختیا.
- د ماین پاکی دځانګړو پروژو پروګرام .
- د موسساتو او دماین پاکي کمپنیو له خوا د آزادو سیالیو له لارې دماین پاکي دچارو پر مخ بیول.
- دماین پاکي دموخو دلاس ته راوړلو لپاره دکافي بودیجې برابرول .

## دموخو دترلاسه کولو په وړاندې ستونځې

*دافغانستان دماین پاکی چارو دهمغږې مرکز باید دافغانستان دژمنې او داوتاوا دکنوانسیون دپریکړو موخو ته درسیدو لپاره په خپلو مالي سرچینو کې زیاتوالی راولي. ددغو پیسو ورکړه باید له وړاندې تر سره شي په دې معنی چې پیسې باید دکال له پیل ځخه وړاندې پروګرام ته ورکړ شي تر ځو له هغه ځخه په سمه توګه ګټه پورته شي. که پیسې له وړاندې ورکړشي نو پروګرام ددې تخنیکي وړتیا لري چې ټاکلې ټولې موخې تر لاسه کړي .*

## د ۲۰۰۹ زیږدیز کال د جنوري میاشتې په اوږدو کې دماین پاکې لاس ته راوړنې

- ۹۶۱ دپرسونل ضد ماینونه ، ۶۱ دټانک ضد ماینونه او ۲۷،۵۵۳ نا چاوده توکي له منځه ویوړل شول.
- ۲ داستوګنو سیمی دماینونو او نورو نا چاوده توکو له شتون ځخه پاکې اعلان شوې.
- ۲۲،۲۶۳ ښځو او نجنونو او ۳۴،۸۱۴ لویانو او هلکانو ته دماین دخطر په اړه زده کړې ورکړل شوې.

## دموخو دجدول په اړه نوټ

**دموخو جدول :** کله چې د ۲۰۰۶ زیردیز کال دجنورۍ په میاشت کې دافغانستان ژمنه (کامپکت) لاسلیک شو ، دخطر سیمه ۷۱۹ کیلومتر مربع ټاکل شوې وه. له دې کبله دخطر دسیمې ۷۰ په سلو کې پاکول چې ۵۰۳ کیلومتر مربع کیږي دافغانستان ژمنه جوړوي. دموخو لاندنی جدول په ګوته کوي چې تر دې مهاله ۲۴۶ کیلومتر مربع څمکه پاکه شوې . په دې معنی که چیرې لومړنی ټاکل شوې موخې نه وای بدل شوې ، نو دافغانستان دماین پاکي پروګرام ۸۵ په سلو کې دافغانستان دژمنې ټاکل شوې موخې تر لاسه کړې دي .

که څه هم هغه لومړنی موخې چې هغه مهال ټاکل شوي وې، په حقیقت کې دخطر دسیمو کټلی انځور نه جوړوي. خو دتیرو کلونو په ترڅ کې ډیر کارونه تر سره شول تر څو ډاډ تر لاسه شي چې په ملي معلوماتي ذخایرو کې دخطر دسیمو دقیقه شمیره شتون لري. ددغو بدلونونو په اړوند دلازیاتو معلوماتو لپاره د ۱۳۸۹ لمریز کال دکاري چوکاټ ۲۵-۲۶ مخونو ته مراجعه وکړئ چې د www.macca.org.af انټرنټ پاڼې له لارې ورته لاسرسی پیدا کولای شی.

په پایله کې هغه لومړنی موخې چې ټاکل شوې وې تعدیل شوې او ۱،۰۹۷ کیلومتر مربع ته پورته شوې. د ۲۰۰۹ زیردیز کال تر ډسمبر پورې دخطر دپاتې سیمو کچه ۶۷۱ کیلومتر مربع ته رسیږي، لکه څرنګه چې کډوال بیرته هیواد ته راستنیږي او په بیلابیلو سیمو کې میشت کیږي نو له دې کبله دخطر نورې سیمې هم موندل کیږي. سربیره پر دې دافغانستان په سهیلي سیمو کې دنا امنیو له کبله لانورې سیمې هم په ماینونو ککړیږي البته دتیر مهال په څیر په منظم ډول نه بلکه په پراګنده ډول. نو څکه ویلای شو چې لومړنې ټاکل شوې موخې کیدای شي بدلون ومومي او موخو ته درسیدو په لاره کې خنډ شي.

خو دغه کار باید دافغانستان دماین پاکې چارو دپلې کوونکو موسسو پر هغه لاسته راوړنو چې دتیرو شلوکلونو په موده کې یې د مرستندویه هیوادونو په مرسته تر لاسه کړې اغیزه ونکړي. دافغانستان دماین پاکي چارو دهمغږي دمرکز په اند دزیاتو مرستو په تر لاسه کولو سره دافغانستان دماین پاکي پروګرام کولای شي موخو ته درسیدو په لاره کې دپام وړ پرمختک وکړي او افغانستان د ماینونو او نورو ناچاوده توکو له ګواښ څخه خلاص کړي.

**دموخو دجدول ربع وار تجدید:** باید په یاد ولرو چې دموخو لاندنی جدول دربعې پربنسټ یا دهرو دریو میاشتو په موده کې نوی کیږي او دافغانستان دماین پاکي پروګرام په میاشتنی خپرپانه کې خپریږي.

**دماین پاکولو دموخو د ترلاسه کولو لور ته دافغانستان پرمختګ: داوتاو دکنوانسیون او دافغانستان د ژمنې (کامپکت) له مخې تر ۲۰۱۱ زیردیز کال پورې ۷۰ فیصده دماین دسیمو دکچې ټیټول او تر ۲۰۱۳ پورې دټولو ماینونو له منځه وړل.**

| | د ۲۰۰۹ زیردیز کال په ډسمبر کې تعدیل شوې موخې | د ۲۰۰۹ زیردیز کال په ډسمبر کې په ماینونو ککړې پاتې سیمې | هغه سیمې چې د ۲۰۰۶ زیردیز کال له جنورۍ څخه د ۲۰۰۹ زیردیز کال ترډسمبر پورې پاکې شوې | ۷۰ په سلو کې ټاکل شوې موخې | دافغانستان دژمنې له مخې دپاکل شویو موخو راورل ته لاس | داوتاوا دترون له مخې په سل کې دموخو سلو راورل ته لاس | داوتاوا دترون له مخې دپاکل شویو موخو ته لاسته راورل |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| دخطر دسیمو شمیر | ۱۱،۵۱۲ | ۶،۸۱۶ | ۴،۶۹۸ | ۸،۰۵۸ | ۵۸% | ۱۱،۵۱۲ | ۴۱% |
| دخطر دسیمو مساحت ( کیلومتر مربع) | ۱،۰۹۷ | ۶۷۱ | ۴۲۶ | ۷۶۸ | ۵۶% | ۱،۰۹۷ | ۳۹% |

## دماین پاکولو ستراتیژي

دافغانستان دماین پاکولو د ستراتیژي له مخې چې افغانستان باید د ماینونو او ناچاوده توکو له شتون څخه پاک هیواد وي، چیرته چې خلک وکړای شي په امن کې ژوند وکړي او دهیواد دپرمختګ لپاره لاره هواره کړي او دماینونو او ناچاوده توکو څخه اغیزمن کسان وکړای شی په ټولنه کې په کار بوښت شي ، حقونو او غوښتنې یې په ګوته شي او اعاده شي.

ددې لپاره چې دغه لرلید په حقیقت بدل شي دافغانستان دملي پرمختیا د ستراتیژي په چوکاټ کې ځینې موخې ټاکل شوي چې داوتاوا دکنوانسیون دپریکړو سره سمون لري.

## دماين پاکي چارو دملي ظرفيت لوړول



دچهار آسیاب په ولسوالی کی د MDDدماین پاکولو ټیمونه - جون ۲۰۰۹

دافغانستان دماين پاکی چارو دهمغږي مرکز ( MACCA ) چې دملګرو ملتونو له خوايې ملاتړ کيږي دپيښو سره دمبارزې درياست ( ANDMA ) په چوکاټ کې دماين پاکولو درياست ( DMC ) له لياری دګډ کار لپاره لاره هواره کړه تر څو په افغانستان کې دماين اړوند چارو دپلان جوړولو ، هم غړی او دکيفيت دښه کولو چارې تر سره کړي . دوزارتونو تر منځ وروستی غونډه دمارچ دمياشتې په ترڅ کې تر سره شوه چې پکې دمس عينک دموضوع تر څنګ پر نورو مهمو موضوعاتو بحث وشو او دوزارتونو تر منځ معلومات شريک شول.

## دافغانستان دماين پاکی پروګرام او دافغانستان دماين پاکي چارو دهمغږي مرکز په اړه معلومات



دسمنګانو په ولايت کي دماين پاکي عمليات

دماين پاکی بشري پروګرام په کال ۱۳۶۸ کې په افغانستان کې رامنځ ته شو چې دماين پاکي ټول اركان پکې نغښتي دی لکه تبليغات ، سروې ، دماينونو پاکول ، دماينونو دزيرمو له منځه وړل ، دماينونو دخطر په اړه زده کړې او دماينونو له قربانيانو سره مرسته. دافغانستان دماين پاکی پروګرام دملګرو ملتونو د وجهې صندوق او نورو دوه اړخيزو او څو اړخيزو لارو تمويليږي.

په افغانستان کې دماين پاکي پروګرام ټولې همکاره موسسې چې په مجموعی ډول دافغانستان دماين پاکې په نوم پيژندل کيږي په نړی کې تر ټولو لوې دماين پاکی پروګرام جوړوي .دغه ټولې موسسې په افغانستان کې دماينونو دپاکولو په برخه کې ۲۰ کلنه بريالی سابقه لري چې ۱۲،۰۰۰ په ماينونو ککړې سيمې يې دهيواد په کچه پاکې کړي. دافغانستان دماين پاکی پروګرام چارې دافغانستان دماين پاکي چارو دهمغږې مرکز له خوا همغږې کيږي چې دملګرو ملتونو له خوا تمويليږي. دافغانستان دماين پاکي چارو دهمغږې مرکز په پروان ، هرات ، جلال آباد ، مزار ، کندز ، ګرديز ، او قندهار کې سيمه ييز دفترونه لري چې دماين پاکي چارو دهمغږې دسيمه ييزو مرکزونو په نوم ياديږي.

**هغه هيوادونه چې دافغانستان دماين پاکی له پروګرام څخه ملاتړ کوي:**

